داکتر عبدالحی نیازی ۲۰۰۸/۰۳/۳۰م

# د ملتپالنې او ملی هویت سیاسی او ټولنیز ارزښتونه

ملتپالنې یا نشنلیزم یا ملت پلوي یوه نسبتآ مدرنه سیاسی تیوری ده چې د تاریخ له پلوه دهغه ریښې د فرانسې لوی انقلاب ( ۱۷۸۹ ) ته رسیږی.ملتپالنه په عملی توګه په نولسمې پیړی په اروپایی هیوادونو کې د ملت جوړونې د پروسې سره سم پیل شوی دی. د ملتپالنې وروستی موخه یا ستراتیژیک هدف د ملی واکمنی پر بنسټ ملی دولت جوړول او د هیواد د هر اړخیزې سیاسی ، اقتصادی او ټولنیزې ارزښتونو او ګټېو څخه دفاع ده.البته دا باید په ډاګه شي چې د متمدنې ملت پالنې اومتمدنې ټولنې د ولس پلوې ارزښتونو په اساس یوه رنګ بایللې لویدیزه پلوه ټولنه جوړول نه ده بلکې د هرې ټولنې د لوړو ملی، دینې او کلتوري ارزښتونو پر بنسټ او د ملتپالنې د روحیې په اساس د ولس واکې او ملی واکمنې تنګیینت او د ملی ټولنې جوړول دي .

پتریاتیزم یا هېواد پالنه یوه عامه لرغونې تاریخی سیاسی اصطلاح ده چې دهغه تاریخی قدامت درې زروکالو ته رسیږي چې هیواد جوړونې سره سم منځ ته راغلی.پتریاتیزم د ملتپالنې یوه برخه ده خو ایدیالوژیک بڼه نه لري ځکه چې انسانان په طبعی توګه د خپل هېواد، وطن ، ټاټوبی ، خوا ، مېنه ، سیمه او خپل کور او کهول او هیواد پورې تړلې ملحقاتو سره په انفرادی او ډله اییزه توګه نه ویشلیدونکې مینه لری او دهغو څخه دفاع کوی خو ملت پالنې یا نشنلیزم سیاسی ایدیالوژیک بڼه لری نو ځکه کمونستان او هغو کسانو چې د اسلام سپیځلی دین د سیاسی واک د لاسته راوړلو دپاره د یوه سیاسی آله په توګه کاروي ملت پالنې مردوده بولی. تر څو چې په یوه هیواد کې قومی او قبیلوی بنسټو نه وي مات شوی په هیواد کې ملت په عملی توکه نه جوړیږی او د نشنلیزم یا ملتپالنې مفکوره هم عملی بڼه نه غوره کوی نوځکه د نشنلیزم تیوری یواځې په اروپایی هیوادونو کې چې هلته د ملت جوړونې بهیر بشپړ شوی دی د مطالعې وړ دی. که چیرې په یوه هیواد کې قومی او قبیلوی جوړښتونه ، سیمه ییز او قبیلوی کلتور پخپل قوت پاتې وي یعنې هیواد د اقوامو ټولنه وی د دې معنی دا ده چې په هیواد کې ملت په عملی توګه منځ ته نه دې راغلی او هیواد د خپل تاریخی ودې او تکامل له پلوه په فیودالی مرحله کې ده نو هلته د نشنلیزم مطالعه او ادعاعملی بڼه نه لري او نباید هر ډول قومی او سیمه ییز شخړی او تاوتریخوالې د نشنلیزم تر سرلیک لاندې مطالعه شي.

په قومی هیواد کې ګوندونه چې د تولنې د سیاسی افکارو یوه سیاسی جوړښت دي هم نشي کولای چې د ټولنې قومی سرحدات د سیاسی ایدیالوژی سره مات کړي نو له بده مرغه نوی توریدی سیاسی ایدیالوژی ګانې هم په اقواموکې ویشل کیږی او قومی او سیمه ییز سیاسی ایدیالوژیک ګوندونه منځ ته راځي او دا ستونزمنه ټولنیز حالت تر هغو پورې غزیږی چې قومی جوړښتونه مات شي او دهیواد د ولس څخه ملت جوړشي او ملت د سیاسی ګوندونو په بڼه د ملت سیاسی برخه لیک وټاکی. په دا رنګه قومی ټولنو کې چې ملت جوړ شوي نه وي د نشنلیزم یاملتپالنه ادعا کول یواځې تیوریک بڼه غوره کوي خو د هیواد د ښیی راتلونکې دپاره د ملتپالنې د نظریی له لارې دهیواد ولس د ملی ګټې پرمحور راغونډ شي. تر څو چې په یوه هیواد کې د ملت جوړونې بهیر بشپړ شوی نه وي قام پالنه او قبیله پالنه او سیمه پالنه عقاید نباید د نشنلیزم ملتپالنې تر عنوان لاندې مطالعه شي. نو له دې کبله د قومی یا قبیلوی نشنلیزم ،قبیلوی فاشیزم ، اتنیک نشلیزم او داسې نور سیاسی اصطلاحات استعمالول د نشنلیزم د تیوری له پلوه ناسمې دي او نباید د ملتپالنې د سیاسی معادل شي.

که چیرې موږ دا ومنو چې ملت ، ملی ټولنه اوملی دولت جوړول یوه لوړ سیاسی هدف دی نو ملتپالنه یا نشنلیزم یوه ملی سیاسی ایدیالوژی ګڼل کیږی. ملتپال ، ملی دولت د دولتونو ترټولو لوړ ، پرمختللی ، ولسی او منتخب ډول د دولت ګڼي خګه چې ملتپالو د هیواد ولس نه د اقتصادی او طبقاتی موقف له پلوه په بډایان او مفت خوران او یا زیارایستونکې او کارګران ویشي او نه د پرولوتار د ګټو څخه یواځې د فاع ګوي. ملتپالنې تیوری و ټولنې ولس د نژادی ، قومی او مذهبی اړخ له پلوه ویش نه کوی ځکه ملتپالو په هیواد ګې دقومی جوړښتونو په ماتیدو او په هیواد کې د ملت په جوړیدو او د ملت د افرادو په متساوی حقوقو باور لری او کله چې په هیواد کې ملت جوړ شي د هیواد د اتباعو مساوی حقوق ، ملی مسؤلیت اومصؤنیت څخه برخمن کیږی او د ملت هر فرد د ملت ملی ګټې ساتنه خپله بنسټیزه ټولنیز دنده بولی او هلته ده چې د یوه متمدنه ملی ټولنه بنسټ ایښودل کیږی .


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

د ملتپالنې بل ستر سیاسی او ټولنیز ارزښت د هغه خپلواکی غوښتونکې اوضد استعماری یا کلونیالیزم خصلت دی چې ملت پلوې ډلې تل د دې لارې مخکشان دي. د ملتپالنې د تیوری هم دغه خپلواکې غوښتونکې او ضد استعماری خصلت سبب شو چې نن په نړی کې ګڼ شمیر خپلواک هیوادونه منځ ته راشي او ملتپال ولسونه په شلم پیړی کې د انګریزانو د کلاسیک استعمار ځغ مات کړي او نوی هیوادونه نه د نوی ملی هویتونو سره منځ ته راغلل. د ملتپالنې بل سیاسی ارزښت د ملی برخه لیک ټاکل حق او د ملی واکمنی ټینګښت په هیواد کې دی. د ملت پالنې د تیوری په اساس ملی واکمنی په یوه هیواد کې هغه مهال ټینګیږی چې یوه خپلواک دولت د ملت د آزادې ارادې په اساس د ولس پلوې مدنې قوانینو له لارې د ټول ټاکنې پربنست منځ ته راغلې وي او د دولت واکمنی په ټول هیواد کې ټینګ شوې وي هغه مهال دې چې دولتی واکمنی ته ملی واکمنې ویل کیږي. له هغه ځایه چې ولسواکۍ د سیاسی او ټولنیزو ستونزو د حل عاذلاه لاره ده اود دولت د واکمنی ټنګښت بېله د ملت ارادې ملی واکمنی او ولس واکۍ تمثیلولی نشي.نوځکه هر اقدام چې د ملت د ارادې خلاف د بهر یا دولت له خوا په و ملت باندې وتپل شي ملی واکمنی ماتیږي. دا د ولس ملت پالنې حساس دی چې ملی ارزښتونه د اساسی قانون له لارې تل پاتې کوی.

ملتپالو ملی هویت (د هیواد د ټولو اتباعو لوړ ګډ هویت چې سیاسی حقوقی بڼه لري او قومی ، سیمه ییز او مذهبی اړیکې نه مني) نه یواځې د یوه سمبولیک ارزښت په توګه ګڼي بلکې د ملت د پایښت د ښیرازې په توګه بولي.کمونستان د طبقاطی بڼسته انترنشنل د هویت په لټه کې دي او د سیاسی اسلام پیروان هویت ته یواخې مذهبی بڼه ورکوي چې سرحد نه مني. د قرآن عظیم الشان په بیان مسلمانان په مذهبی لحاظ سره ورورونه او خویندې دي خو د یوبل سره د تعارف او پیژنګلوې او د حد د ټاکلو د پاره د هیوادونو په چوکات کې عملاً ملی هویت ته اړتیا لري. د ملی هویت د نوم په ټاکلو کې یوشمیر تاریخی، اتنیکی او کلتوری او هیواد د جوړیدو او سیاسی واک څرنکوالې او دهغه تاریخی بهیر ډیر ارزښتناک دی چې څنګه دملی هویت نوم ټاکل شوي دی خو خپله د ملي هویت کلمه یوه مدرنه معاصر سیاسی (ترمنالوژی) اصطلاح ده چې د هیوادونو د اتباعو سیاسی ، حقوقی اړیکې د دولت سره په اسنادو(پاسپورت- تذکره) کې تثبیتوی چې د بل هیواد د تبعه یا دایمی اوسیدونکې څخه په ملی او نړیواله کچه توپیر او تفکیک شی چې د هغه په اساس تبعه د هیواد د تابعیت د حق امتیازاتو څخه برخمن کیږی. خو خبر دا ده چې څرنګه د یوه هیواد ملی هویت نوم ټاکل کیږی؟ دا د هیواد په تاریخی ، سیاسی ، کلتوری او قومی جوړښت پورې اړه لری ، کوم داسې ځانګړی سیاسی فورمول نشته چې په ټولیزه توکه ملی هویت یا د هیواد نوم د هغه په اساس وټاکل شي. په ځینو هیوادونو کې ملی هویت په طبیعی توګه د هیواد د جغرافیایی نوم څخه مشتق کیږی او یا ملی هویت د هیواد د یوه قوم د نوم مشتق کیږی. خوا که د ملی هویت نوم د هیواد د یوه قوم د نوم څخه اخستل شوی وي نو هغه قوم باید دومره تاریخی لرغونتوب ، لویوالې او سیاسی ځواکمنتیا په هیواد کې ولری چې د ملی هویت څخه د یوه سیاسی امتیاز په توګه تل دفاع وکړي او د هیواد نورو اقوامو ته قناعت ورکړي چې هغه د ملی هویت په توګه ومنی او په اساسی قانون کې خپل قومی هویت د ملی هویت په توګه د هیواد د اتباعو د ملی هویت په توګه په اساسی قانون درج کې او هغه ته سیاسی حقوقی پایی او ملی او نړیوال پیژنګلوی ورکړی. د یوه ولس او هیواد تاریخ ، کلتور او یا مذهب د هیواد په منځ ته راتګ کې ستره اغیزه لري مګر خپله مدرنه ملی هویت د هیواد د افرادو د ګډ سیاسی حقوقی پیژنګلوې سند ده. ملی هویت کولاې شي چې د ملی کلتور څخه سرچینه اخستې وي خو ملی کلتور یوه دینامیک یا خوځنده حالت لری او د ټولنې د ودې سره سم کلتوری ارزښتونه بدلون مومي خو ملی هویت د یوه هیواد تل پاتې هویت دی چې کلکې ساتنې ته اړتیا لري. د دې دپاره چې افغانی ملی هویت تل پاتې شي هر اړخیز سیاسی ؤ اقتصادی او کلتوری ودې ته اړتیا لری تر څو چې د افغان دولت هویت او ماهیت افغاني پاتې شي .

افغان ملت پال ملت یوه سیاسی ټولنه، ملی هویت یوه تاریخی ملی لاسته راوړنه اړ دهغه نه دفاع او ساتنه خپل ملی دنده او تاریخی رسالت بولی او تل د ملی هویت د تثبیت کیدواو ټینګیدو دپاره د یوه سیاسی ارزښت په توګه د مبارزې په لومړی کرښه کې ځای لري اوملی هویت( نشنلیتی – ملی تعلقیت) ته د یوه ستر ملی سمبولیک ارزښت په توګه د ملت جوړونې د پروسې ښیرازه او د ملت پالنې د تیوری یوه ستر ارزښت په توګه ګوری او تل هڅه کوی چې ملی هویت له قومی او سیمه ییز اعیزې وباسی تر څو چې په هیواد کې د ملی هویت د بحران مخه ونیسي. د ملت پالنې د تیوری په اساس لومړی په هیواد کې د ملت جوړونې تصور( ملت – دولت) منځ ته راځي او بیا ملت کیدو د ملی هویت له لارې سیاسی حقوقی ابعاد مومي. د نړی په هیڅ یوه هیواد کې داسې یوه پارچه ملی هویت نشته چې په اتنیک او یا مذهبی لحاظ د هیواد د ټولو اقوامو قومی ریښې په کې وي. که څه هم قومی هویتونه تاریخی بڼست لري خو ملی هویت یوه مدرنه سیاسی پدیده ده او په متمدنه ټولنه کې ملی هویت منل یوه سیاسی حقوقی ایجاب او قبول دی چې یوه فرد یا وګړی د خپل هیواد یا د بل هیواد ملی هویت منی او د تابعیت حق او امتیازات ترلاسه کوی. تبعه هم یوه مدرنه سیاسی ترم یا اصطلاح ده چې په یوه هیواد کې د قانونی اوسیدل حقوقی او سیاسی مفهوم وړاندې کوی


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

چې د ملی هویت له لارې تمثیلېږي. ملی هویت په کلاسیکه توګه د ملت د افرادو تاریخی ، سیاسی ، کلتوری او تولنیز هویت معرف دی. دا د ملتپالنې روحیه ده چې د غه اندنښنو ته وده ورکوی چې د هیواد ولس د خپل ملی هویت د ساتلو په ارزښت پوه شي. په ډودیزه توګه ملی هویت په نولسمه پیړی کله چې په اروپا کې د ملت جوړونې بهیرپیل منځ ته راغلی او د یوې نوی او مدرن سیاسی ترمنالوژی او پدیدې په توګه چې کلتوری او تاریخی ریښې لری او په سمبولیکه توګه یوه ملت نورو ملتونو او هیوادونو ته پیژنی. ملي هویت د یوه تاریخی اړتیا په توګه منځ ته راغلی دی داچې په اروپایی هیواد کې څنګه منځ راغلی دا د هیوادونو په اتلسمې او نولسمې پیړیو په سیاسی حاکمیت او د ځواکمنو په اتنیکی اوکلتوری اړیکو او شرایطو پورې اړه درلودلې.په معاصر افغانستان کې د افغان کلمه د ملی هویت په توګه یوه ستر تاریخی بدلون ګڼل کیږی چې دا کلمه اوس یوه انحصاری اتنیکی کلمه د پښتون قوم دپاره نه ده همدارنګه چې په جرمنی کې جرمن یوه انحصاری اتنیک کلمه نه او د سیاسی حقوقی اړخ له پلوه د جرمنی په تولو اتباعو او اوسیدونکو استعمالیږی چې په جرمنی کې د قانونی تل پاتې کیدو اوسیدو اسناد ولري او یا د هغه هیواد متولد وي. د ملت جوړیو د مخه جرمن یوه اتنیک کلمه وه.په هیواد کې دا د ملت پالنې تیوری وه چې اتنیک هویت ملی ، سیاسی او حقوقی اړخونه ورکړه او له قومی او اتنیک دایرې څخه وایستل او د مدرن دولت د جوړولو بنسټ کېښود. د ملتپالنې د تیوری په اساس په یوه هیواد کې یوه تبعه د قانون له لارې د تابعیت او دهغه متمم د ملی هویت حق ترلاسه کولاې شې چې په هغه کې نژادی ، قومی او سمیه ییز اړیکې اغیزه نه لري ځکه ملت پلو د ملت جوړونې په تیوری باور لري.

دا چې په آسیایی او افریقایی هیوادونو کې سیاسی واک څرنګه منځ ته راغلی او سیاسی واک څرنګه د کوم قوم یا کورنی په لاس کې لویدلی دی او دهغه قوم سیاسی او کلتوری اغیزه د ملی هویت په جوړیدوکې څرنګه دا په هیوادونو کې سره توپیر لري په یو شمیر هیوادونو کې ملی هویت د هیواد د نوم څخه اخستل شوې او په یو شمیر هیوادونوکې ملی هویت او د هیواد نوم د یوه لوی قوم د اتنیک ریښې یا د قومی نوم څخه اخستل دي دبېګې په توکه روس – روسیه ، ترک – ترکیه او افغان افغانستان او داسې نور تاریخی نومونه او هیویتو مدرن ملی بڼه غورکړی او نشنلایز شوی دي. خو په هغو هیواونو کې چې هیواد جوړونې د استعمار ګرو ثمره ده متجاور هیواد د مفتوحه سیمه د پاره نوم او هویت ټاکلی دي لکه د منځنی آسیا د هیواونو حدود ، نومونه او هویتونه چې په دغه شکل سابقه نه درلود د روسیی له خوا وټاکل شو. د مهاجرو ټولنو هیوادونو لکه کانادا [(د کلې نوم ؤ) او آسترلیا [( استرلیا د لاتین د آستره لیس د کلمې څخه مشتق شوی ده چې د جنوبی سیمه معنی لري او په چې په ۱۶۶۵ میلادی کال کې په دغه قاره کې د انګرزانو له خوا استعمال شو)] چې په دغو هیوادونو کې د ملت جوړونې په پیل سیاسی واک د یو لوی قوم چې د تاریخی لرغونتوب خاوند وي په لاس کې نه ؤ ملی هویت د هیواد د نوم اخستل شوی دی. په نولسم پیړی کله چې بشری تولنه وده وکړه د هیوادونو ترمنځ اړیکې او پیژنګلوې په نړیواله کچه منځ ته راغلی ملی هویت نه یواځې په ملی سطحه بلکې په نړیواله کچه د یوه سیاسی او حقوقی اړتیا په توګه ومنل شو. دا عملاً ممکن نه ده چې په یوه هیواد کې دوه ملی هویت موجود وي. دا په یوه هیواد کې سیاسی ، حقوقی او ټولنیز تعامل ده چې د هیواد اتباع یې ومنې. په افعانستان کې ملی هویت د افغان قوم د قومی هویت څخه اخستل شوې چې ځپل قومی او سمه ییز ابعاد بایللی دی او د افغانستان په ټولو حال او ماضی اساسی قوانینو کې افغان د افغانستان ولس د ټولو اقوامو او مذاهبو د ملی هویت په توګه درج شوی. که څه هم د ملی هویت اوملت جوړونې په بهیر کې ګډ تاریخ او کلتور اهمیت لری خو په ننۍ متمدنو هیوادونو لکه متحد ایالات ، کانادا.... کې د واحد ملی هویت خاوندان نه مشترک تاریخ لری ، نه ګډه دین ، نه ګډ ژبه او کلتور او نه ګډې نژاد ریښې د بیلګې په توګه امریکایی ملی هویت دبیلابیلو اقوامو نژادونو او مذاهبو واحد ملی هویت دي. خو د ملی هویت تبلور او پیدایښت په هره هیواد کې خپلې ځانګتیاوی لری خو یوه سیاسی حقوقی مفهوم وړاندې کوي یعنې ملی هویت. دا چې نن یو شمیر افراد د افغان ملی هویت او د افغانستان نوم سره حسادت ، حساسیت یا مخالفت یا دښمنې ښیی او په سیاسی توګه عمدآ د خراسان یا آریانا نوم د افغان او افغانستان د تضعیفولو او له منځه وړلو د پاره استعمالوی په واقعیت کې غواړی تاریخ په شا تمبوی او لکه بخوانی یوګوسلاوی د ملی هویت بحران جوړوی. د افغانستان دا د اساسی قانون په اساس دا د افغان دولت دنده چې پرې نه ایږی چې چا د ملی هویت سره سیاسی لوبه وکړي. لکه چې ما وویل په نړۍ کې داسې یو هیواد نشته چې د هیواد د ټولو اوسیدونکو اقوامو قومی ریښې په ملی هویت کې نغښتې وي. افغان ملت پال غواړی چې د افغان ملی هویت د افغانسنان د ټولو اقومو د ملي هویت په توګه نور هم نشنلایز (ملی ) او تل پاتې شې او له نیکه مرغه د اساسی قانون له لارې تل پاتې شوی دی خو د کورنیو جګړو وروسته نن یو شمیر کړۍ عمدآ غواړی چې افغان ملی هویت لوکلایز یا سیمه ییز کړي او د هغه پر ځای خراسان یا آریانا نشنلایز کړي دا کار نور ممکن نه ده ځکه چې د هغه ترشا افغان ملتپال کلک ولاړ دی. همدارنګه چې نن هیڅ څوک کولای نشی چې د فرانسوی یا روسی.... څخه ملی هویت واخلی تر څو


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

چې به فرانسه او روسیه کې فرانسوی او روسی ژوندی وي. دا چې خراسان او یا آریانا څومره تاریخی قدامت لری ځانته خبره ده مګر ملی هویت یوه تاریخی امتیاز اویوه لوی افتخار دي چې افغانان په خپل هیواد کې ترلاسه کړی او استعمالوي او دغه افتخار د افغانستان د ټولو اقوامو سره د زړه له کومی شریک کوی. خراسان(ختیز) هغه لغت چې د اسلام څخه وروسته اعرابو په فارس ، افغانستان او توران (منځنی آسیا) باندې استعمال کړی او دافغانستان د هیڅ یوه قوم سره اتنیک یا کلتوری تړاو نه لری نو څرګنده خبر ده چې د افغانان په هیڅ قیمت حاضر نه دی چې د خپل ملی هویت سره چې یوه تاریخی لاسته راوړنه او ویاړ ورته ګڼل کیږي د خراسان سره بدل کړي. آریا هغه لوی نژاد دی چې مشخصه سیمه یی ( آریانا) څرګند نه دی او د جرمنی څخه نیولی د دهلی تر شماله پوری په هغه کې په لسهاو هیوادونه او قومونه شامل کیږی او یو ډیر عام نژادی دی اونا مشخصه سیمه ده او د هغه په مقابل کې افغان د یوه څرګندې سیمې او څرګند قوم اتنیک نوم دی چې اوس په سیاسی لحاظ د دې سیمې نوم افغانستان دی او د دې سیمې د ټولو اقوامو ملی هویت افغان دی. افغان ملت پال و په هر حالت کې د ملی هویت(افغان) او د هیواد د نوم (افغانستان) څخه د آریانا او خراسان په مقابل کې کلکه دفاع کوي او د افغاني ملی هویت او د افغانستان نوم ساتنه خپل تاریخی رسالت او ملی مسؤلیت بولي.افغانستان یوه موزایک قومی جوړښت لري په اتنیکی لحاظ په افغانستان کې ازبکان او ترکمنان ترک نژاد دي ، هزارګان احتمالاً منګول نژاد او اعراب سامی نژاده دي. د ( تاجک در مسیر تاریخ) د کتاب په روایت تاجک (تاژیک) کلمه د لومړی ځل د پاره د تراکانو له خوا په هغو عجم مسلمانانو باندې استعمال شوی چې نه عرب( تازی ) ؤاو نه ترک ؤ. نو په دې توګه تاجک یوه اتنیک نه بلکې د یو شمیر مسلمانو اقوامو مجموعه چې نه ترک دی او نه تازی(عرب) چې نن اتنیک رنګ اخستی دی او د افغانستان درې ژبی حنفی مذهب مسلمانان چې ډیر اقوام په کې شامل دی د یو قوم(تاجک) په توګه کارول کیږي.قوم(اتنیک) او ژبه دوه مستقلې مفاهیم دي قوم یوه بشری بیولوژیکې مسله ده او ژبه یوه ټولنیزه پدیده ده او یوه قوم په څو ژبو او لهجو خبری کوی خود ملی هویت ټاکل یوه مدرنه پدیده ده چې د مختلفو ژبو او مذاهب کولاې شي چې واحد ملی هویت ولري یا ومني. په فارس (پرژن) کې فارسیان یوه ځانګړی قوم په ننۍ ایرانی کې دی چې د ایران ٤٥٪ نفوس جوړوي. پهلوی فارسیان په ١٩٣٥ میلادی کال کې د ایران لغت په مستقیمه توګه د فردوسی د شهنامې څخه اقتباس او د فارس د هیواد نوم پر ځای استعماله کړه او په ننی ایران بدل شو.ایرانی د ملی هویت په توګه په فارسیان، بلوچان، عربان، ترکان، ترکمنان، کردان، ارامنیان او یهودانو باندې استعمالیږی.نو په دې توګه د ملی هویت ټاکل او منل یوه لرغون پالنه( باستان ګرایی) نه ده بلکې د شلمې پیړی د ملی اونړیوال پیژن کلوې او سیاسی اړیکو د ټینګولو اړتیا وه او ده.د مدرن ملت متشکله اجزا عبارت ده ملی هویت، ملی ګټې، ملی مصالح او ملتپالنه ده. که په تاریخ یا تاریخی هویت یا د ژبې په قدامت باندې اتکا وکړو نو یوه عرب چې په ایران کې اوسیږی څنګه ایرانی کیدی شي نو له دې کبله باید ملی هویت ته له مدرن اړخ څخه وګور کنه نو عرب د تل دپاره په ایران کې عرب پاته کیږي.په دې توګه ملی هویت یا نشنلیتی په هیواد کې دهغه سند نوم دی چې د تبعه په سیاسی حقوقی اسنادو کې د قانونی اوسیدو دپاره ثبت دي او هر څوک چې د تابعیت سند ولری د ملت غړی دی .

په ١٩٥٤میلادی کال ستالین توران (منځنی آسیا) چې عمدتآ ترک نژاد دی چې په تاجکی- فارسی، ازبکی او ترکمنی ژبو خبرې کوی، په اوه هیوادونو باندی و ویشل چې په نتیجه کې تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان، آزربایی جان، قزاقستان، قرغزستان او چچنیا هیوادونه منځ ته راغلل او په تاریخی توران کې د ملت – دولت ( نیشن ستیت ) بنسټ د روسانو له خوا ګینودل شول. د تیوریک اړخ له پلوه ملتپالنې د قبیله پالنه اوقوم پالنه سره کلک توپیر لري ځکه چې قوم او قبیله د ټولنې د اکامل اوودې له پلوه تل پاتې مرحله نه ده او ګه چیرې سیاسی ، اقتصادی او ټولنیز ودې په هیواد کې د مدنی قوانیونو په څنګ کې زمینه ورته برابره شي د هیواد میشت اقوام سره مدغم (ګډ) کیږی او ملت منځ ته راځي او په یوه هیواد کې ملت د تاریخی تکاملی ودې عالی او لوړ مرحله ګڼل کیږي او دا د ملت پالنې تیوری ده چې دا ټولنیز د دغی ټولنیز لاسته راوړنې څخه د فاع کوي او پر مخ بیایی او غواړې چې قومی او قبیلوی ذهنیت وځپل شي او ملی ذهینت ته وده ورکړل شي په داسې حال کې چې ګمونستان په هیواد کې د ملت جوړونې د تیوری سره ( ملتپالنې) کلک مخالفت ښیی او هغه فاشیزم بولی.د مدرن ملتپالنې (نشنلیزم) بنسټیز برخه ملت جوړونې او د ملی هویت ټینګښت جوړوي.

د متمدنې ملت پالنې روحیی پالل په یوه هیواد کې یوه تاریخی یا اړتیا ګڼل کیږي ترڅو چې افغان بچیان د خپلواکې ، اسلامیت ، ملی واکمنی ، ملی هویت ، ملی یوالې او د ملت پالنې د روحیی سره سم و روزل شي او د یوه افغان تبعه حق یا د یوه قوم حقوق نفی کول د افغانستان د ټول ولس حقوق نفی کول دی .

د مدنې ملتپالنې ستراتیژیکه موخه په یوه هیواد کې د یو لړ لوړو ملی او سیاسی ارزشتونو پلې کول دي چې له هغې جملې څخه د مدنی ملت جوړول ، دولت ملی مشروعیت او د ملی واکمنی ټینګښت دي چې باید دولت د ملت د آزادې


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

ممثل وي ځکه چي مدني ملتپالنه د ملت هر اړخيز ګټو ته لوړ تيا ورکوی.مدني ملت پالني خپل تيوريک اساسات د فرانسوی ليکوال ژان ژاک روسو د کتاب( ټولنيز تړون يا قرار داد اجتماعی) څخه اخستی دی چي نوموړی د فرانسی د ستر انقلاب تيوريسن ګڼل کيږی. د متمدني ملتپالي تيوری په اروپاکي ستر او نن دهغه ستراتيژيکه موخه په اروپاکي د اروپا د يوالي ټولنه يا د اروپايی اتحاديی ده چي د هيوادونو د ملی او ټولنيزو ارزښتونو او خپلواکي پربنست ولاړه ده.

د مدني ملتپالني بله ستراتيژيکه موخه په يوه هيواد کي د يو لړ لوړو ملی سياسی او کلتوری ارزښتونو پلي کول دي چي له هغي جملي څخه د ټولنيز عدالت پلي کول په سياسی ، اقتصادی او ټولنيزو چارو کي دي. متمدنه ملت په يوه هيواد کي يوه واحد سياسی ټولنه د ملی هويت پربنست دي. د ملتپالو له نظره د دولت ملی مشروعيت او ملی او د واکمنی ټينګښت بايد د ملت د آزادي ارادي په اساس وي ځکه چي متمدن ملتپالنه د ملت هر اړخيز ګټو ته لوړ تيا ورکوی.متمدني ملت پالني خپل تيوريک اساسات د فرانسوی ليکوال ژان ژاک روسو د کتاب( ټولنيز تړون يا قرار داد اجتماعی) څخه اخستی دی چي نوموړی د فرانسی د ستر انقلاب تيوريسن ګڼل کيږی. د متمدني ملتپالي تيوری په اروپاکي ستر شوی او نن دهغه ستراتيژيکه موخه په اروپاکي د اروپا د يوالي ټولنه يا د اروپايی اتحاديی جوړول ده.

د اروپا ټولنه کي دهيوادونو خپلواکی ، د خاوري بشپړتيا، کلتوری او ولسواکی د ارزښتونو پربنست ولاړی دي.

په افغانستان کي د متمدني ملت پالني روحيی پالل په يوه هيواد کي يوه تاريخی اړتيا ګڼل کيږي ترڅو چي افغان بچيان د افغانيت، اسلاميت، خپلواکي، ملی واکمنی، ملی هويت، ملی يوالي او د ملت پالني د روحيی سره سم و روزل شي او د يوه افغان تبعه حق يا د يوه قوم حقوق نفی کول د افغانستان د ټول ولس حقوقو د نفی کولو په معنی دی .

په افغانستان کي د مدني ملتپالني د غورځنګ ستراتيژيکه موخه دا ده چي د افغان ولس د رای او ارادي سره سم يوه داسي خپلواکه ملت پلوه افغانی ملی دولت منځته راشي چي د هيواد د ملی ، مذهبی ، لوړ کلتوري او ټولنيزو ارزښتونو څخه په کلکه توګه دفاع وکړي او شرعی او د نړيوالو ولس پلوه قوانينو په اساس د تيرو ديرشو کالو ملی خاينين او د بشری حقوقو ناقضين په ميرانه د عدالت دايرې ته وکاږي تر څو چي په افغانستان کي ټولنيز عدالت ټينګ شي او عدالت د ډلو د مصلحتونو قربانی نه شي ځکه چي د عدالت څخه معافيت او مصؤنيت د خدای(ج) په قاموس کي نشته. افغان ملت پال د يوه داسي ملی متمدني ټولني د جوړيدو غوښتونکی دی چي په هغه کي ټولنيز عدالت، ملی واکمنی، ولسواکی، مذهبی آزادی، بشری حقوق او د بيان ازادی په کي ټامين شي تر څو چي په افغانستان کي د ملت جوړوني تاريخی بهير چټک شي. افغان ملت پال خپل ملی دنده او تاريخی رسالت بولی چي په افغانی ټولنه کي د اسلاميت ، افغانيت ، تقوا ، فضيلت او معنويت روحيی ته وده اوبرختيا ورکړي. د افغاني ملی هويت پربنست په افغانستان کي د ملی ټولني جوړيدو د افغان ملتپالو تلپاتي ملی ارمان دي.

په درنښت



افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de